۲۰۲۶/۰۶/۱۰

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
(شپږ اویايمه برخه)

### محمد عالم نوابي

په ۱۹۲۹ز کال کې په يوې محمدزيي کورنی کې زېږېدلی دئ. د برلين له ‹فري يونيورسيټي›[1] څخه ئې د حقوقو د فراغت سند تر لاسه کړ. د جرمني په « بُن او ګوتنګن»[2] او ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې ئې په شوروي اتحاد کې تحصيلات کړي دي. د ميوندوال تر مهال پورې ئې په صدارت عظمی کې د ۱۵ کالو لپاره کار وکړ. د بادغيس، پروان او فراه والي. په ۱۹۷۳ز کال کې د بلخ والي. وادۀ ئې کړی او دري لوڼې او يو زوی لري او په جرمني کې ژوند کوي.

### ډاکټر علي نواز

‹له ۱۹۳۳ تر ۱۹۴۵ز کال پورې په جرمني کې د افغانستان د سفير› د ملتان، الله نواز زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په ليسي کې ئې زده کړې کړي دي. په جرمني، آستريا او سويټزرلند کې ئې تحصيلات کړي دي. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې د ‹بسل»[3]له پوهنتون څخه په سياسي علومو کې خپله دکتورا تر لاسه کړه. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د باندنی سوداګرۍ مدير او وروسته عمومي مدير. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د سوداګرۍ په وزارت کې د سوداګرۍ د رياست رئيس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د سوداګرۍ د وزارت مرستيال وزير. د صادراتو شخصي کار ئې پيل کړ. د خپلې دکتورا تيزس ئې د ‹منځنی ختيځ په ټولنيز جوړښت او اقتصاد کې بدلونونه»[4] تر عنوان لاندې په ۱۹۵۷ز کال کې په سويټزرلند کې وليکۀ. له مېرمن مستورې ملکيار سره ئې وادۀ کړی وو چې ‹په ۱۹۸۴ز کال کې طلاق کړه او څلور بچيان لري. په لويديځ جرمني کې ژوند کوي. په دري، جرمني، او انګليسي او څه ناڅه فرانسوي خبرې کوي.

**الله نواز** : وګورۍ : الله نواز

### مستوره نواز

[1] -Free University, Berlin
[2] -Bonne and Gottingen
[3] - University of Basel
[4] -Changes in the Economics and Social Structure of the Middle East


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د جنرال عبدالاحد مليکار لور په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلې ده. ليسه ئې په کابل کې لوستې ده. د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د فارسي ادب له څانګې فارغه سوې ده. د والدينو د پلان جوړونې د نړی والي ټولنې [5] سيمه ييزه استازې. د انجمن رهنمای خانوادهٔ افغان د بورد غړې. د علي نواز مېرمن (علي نواز : د اقتصاد د وزارت پخوانی مرستيال وزير)، (د امريکا په متحده ايالاتو کې د پخواني افغان سفير) عبدالله ملکيار خورزه او د (افګا AFGA د پخوانۍ مشرې نظيفه نواز تندرور.

## نظيفه غازي نواز

(د پخواني پادشاه محمد ظاهر د اکا) سردار شاه محمود لور، د ۱۹۳۰ز کال په شاو خواوو کې زېږېدلې ده. د ۱۹۵۰ز لسيزې په اوږدو کې ئې په سويتزرلند کې نرسنګ لوستی دئ. تر ۱۹۷۸ز کال پورې د انجمن رهنمای خانوادهٔ افغان رئيسه او سکرتر جنراله. د زېږنتون/ زايشګاه رئيسه. د ډاکټر محمد نواز مېرمن (محمد نواز په ۱۹۷۸ز کال کې په کابل کې وفات سو) او د علي نواز وريندار.

## ډاکټر عبدالله نويد

د غلام احمد نويد زوی په ۱۹۴۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۷ز کال کې د نادريې له ليسې څخه فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۷۲ز کال کې د پليتخنيک له انستيتيوت څخه د ودانولو/ ساختماني په څانګې کې د ليسانس په درجې فارغ سوی دئ. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د ټولګټو د وزارت کارمند. په ۱۹۷۹ز کال کې لندن ته لاړ او خپله دکتورا ئې په ۱۹۸۶ز کال کې د (شفيليډ) [6] له پوهنتون څخه د ودانولو/ ساختماني په څانګې کې ترلاسه کړه. د نقاش په نوم هم شهرت لري. وادهٔ ئې کړی او په انګلستان کې له خپلې کورنۍ سره اوسېږي.

## غلام احمد نويد

په ۱۹۰۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ د (امير حبيب الله خان پر مهال د امين الوجوهات) د سردار نور احمد نوري او د سردار سلطان احمد طلايي تر ټولو کشرۍ لور، د سلسلې زوی. زده کړې ئې په کور کې او د ملک الشعرا قاري عبدالله، مولانا يعقوب فراهي، هاشم شايق آفندي او عبدالهادي داوي په شان علماوو څخه ئې زده کړې تر لاسه کړې دي. په ۱۹۲۵ز کال کې د سوداګرۍ په وزارت کې د نهر ِ رزاق د پروژې رئيس. په ۱۹۲۸ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې افسر. د ځوانو افغانانو د ګوند (جوانان ِ افغان) غړی، او د (عبدالهادي داوي) د مشروطه غوښتونکو پلوی. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۵ز کال پورې برلين کې د افغان ديپلوماتيک مأموريت لومړی سکرتر. په ۱۹۳۵ز کال کې د باندنيو چارو د وزارت د پرسونل مدير. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۷ز کال پورې په مسکو کې د افغان ديپلوماتيک استازيتوب لومړی سکرتر. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د باندنيو چارو په وزارت کې د سياسي ديپارتمنت عمومي مدير. په ۱۹۵۳ز کال کې په بمبئې کې جنرال قنسل او له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې په مشهد کې جنرال قنسل. په ۱۹۶۴ز کال کې د افغان ادبي ټولنې وياړمن/ افتخاري رئيس. تر ډېره د خپلو ادبي کارونو په باب شهرت لري او خپل هېوادوال ئې د غزل د استاد په نوم يادوي. غلام احمد نويد (سبک ِ هندي وليکهٔ؛ دا د فارسي يو ادبي سبک دئ چې

---

[5] -International Planned Parenthood Association

[6] -Sheffield


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

په افغانستان او د هندوستان په شمال او د ایران په ځینو برخو کې شهرت لري. اشعار ئـي د افغانستان او ایران په ژورنالونو کې خپارهٔ سوي دي. دیوان ئـي لا تر اوسه نـهٔ دی چاپ سوی. د ۱۹۸۴ز کال د سپتمبر په ۲۲ نـېټې وفات سو.

## حامد نوید

په ۱۹۴۸ز کال کې زېږېدلی دئ، د غلام احمد نوید زوی. په ۱۹۶۵ز کال کې د حبیبیې له لیسې او په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۳ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او په ۱۹۷۵ز کال کې ئـې خپله ماستري په «بفلو» [7] د نیو یورک له پوهنتون څخه په ښکلیو هنرونو کې واخیسته. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د کابل پوهنتون د ښکلیو هنرونو مدرس. انځورگر، عمدتاً انتزاعي انځورگري خو ورسره یو شمېر تمثیلي انځورگرئ هم کوي. له غلام علي امید څخه ئـې زده کړه کړې او مجسمه جوړونه ئـې له امان الله حیدرزاد څخه زده کړې ده. حامد نوید د دري ژبې شاعر هم دئ. له مېرمن خدیجې گیلاني سره ئـې وادهٔ کړی دئ. د مجاهدینو په مقاومت کې فعال دئ. د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## تورن جنرال نظر محمد

په ۱۹۸۰ز کال کې د هوایي او هوایي مدافعې عمومي بولندوی. د وسله وال ځواک د سیاسي چارو رئیس. د خلق د گوند د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورې غړی. په ۱۹۸۴ز کال کې د هوایي ځواکونو ستر درستیز. په ۱۹۸۴ز کال کې ددفاع وزیر. په ۱۹۸۵ز د خلق دیموکراتیک گوند د سیاسي بیرو علی البدل غړی.

## محمد سلیم نزار

د ملا عبدالکریم د زوی حاجي محمد یونس زوی په ۱۸۹۱ز کال کې په مزارشریف کې زېږېدلی دئ. په لومړیو کې ئـې سوداگري کوله خو وروسته د مزار د لرغونتون کارمند سو. شاعر.

## محمد کریم نزیهي

د قاضي بابه مراد زوی په ۱۹۰۶ز کال کې په اندخوی کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. په ۱۹۲۷ز کال کې د غازي د لیسې د تأریخ او جغرافیې ښوونکی. په ۱۹۳۱ز کال کې د ادبي ټولنې غړی. په ۱۹۳۷ز کال کې د پښتو ټولنې غړی. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۰ز کال پورې د مطبوعاتو د ریاست د څېړنې عمومي مدیر. له ۱۹۴۴ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د کابل پوهنتون استاد. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۲ او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۵ز کلونو پورې په ولسي جرگې کې د اندخوی استازی. تورک مترقي او نشنلیست. لیکوال او شاعر. د میمنگې له لور سره ئـې وادهٔ کړی دئ. مورنۍ ژبه ئـې وزبیکي ده. په ۱۹۸۵ز کال کې په هندوستان کې وفات سو.

## لطیف ناظمي

په ۱۹۴۷ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. دري ادبیات ئـې د کابل په پوهنتون کې لوستي او په ۱۹۷۰ز کال کې فارغ سوی دئ. په راډیو افغانستان کې مقرر سو. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. له ۱۹۷۲ز کال راهیسې

[7] -University of New York at Baffalo


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د راډيو افغانستان ادبي منتقد. همدا رنګه ډرامه ليکونکی هم دئ. د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کي د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د کلتوري چارو او کلتوري پروژو رئيس. په ۱۹۸۰ز کال کي د راډيو افغانستان د برودکاست رئيس. له ۱۹۸۲ تر ۱۹۸۵ز کال پوري په ختيځي جرمني کي په برلين کي په کلتوري دندي ګومارل سوی وو. بېرته کابل ته راستون سو. خپل شاعري آثار ئـي د ‹ديوار جادم›[8]، ‹سايه در باتلاق›[9] او ‹کودک خوشبختي›[10] چاپ کړل. په ۱۹۷۵ز کال کي ئـي د ادبياتو جايزه وګټله.

## محمد آقا ندا

د ولي محمد زوی په ۱۹۳۳ز کال کي په هرات کي زېږېدلی دئ. د لومړني ښوونځي له بشپړولو وروسته له ليسي فارغ سو او په هرات کي ئـي دوديز طبابت يا يوناني طبابت زده کړ. شاعر.

## سيد مقدس نګاه

انځورګري ئـي په خپله زده کړي ده. په چکوسلواکيا، شوروي اتحاد او دننه په افغانستان کي ئـي د خپلو آثار ننداړتونونه جوړ کړي دي. د مرمرو د موازئيک په هنر کي ماهر انځورګر دئ چي په دې ډګر کي ئـي څو پيچلي تابلو ګاني جوړي کړي دي. همدا رنګه نوموړی د ډېرو استعدادونو خاوند ممثل او ډرامه ليکونکی هم دئ چي د ستيج او صحني لپاره ئـي ګڼ شمېر ډرامي ليکلي دي. د ۱۹۶۶ز کال د مي له مياشتي تر جون پوري ‹د خلقيانو ضد› د ‹مردم› د خپروني ناشر.

**نور بيا**

## محمد نسيم نګهيت ‹سعيدي›

په ۱۹۳۳ز کال کي د بدخشان ولايت په فيض آباد کي زېږېدلی دئ. په...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[8] - Fence to the Street
[9] -The Shadow in the swamp
[10] -The child of Fortune


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ